شهسوار سنګروال

۲۰۲۵/۱۲/۱۴

# یونان ته سفر،

## یوه تاریخي سفرنامه

د ډسمبرلومړی نېټه وه،په داسي حال کي ،چي شپې خپلي تیاري راټولولي او د سبا ستوري هم ورورو خپله لمنه خوره وله ، چي یوناڅاپه د ګړی زنګ له خواږه خوبه راپاڅولم .

د شپې وروستی شېبې وې اودګړی ستنې هم په درې بجو ولاړې وې ،له کوره ووتم اود رڼاګانوله ښکلي وطن، د لندن زړه نه مخ په هوايي ډګر، د یوه ګرندي موټر په وسیله روان شوم .

له لږ تم نه وروسته الوتکي ته پورته شوم، د سهار اووه بجي وې،چي دلرغوني یونان په نیت وخوځېدم .

د لندن اویونان ترمینځ ، د الوتکي د وزرو پر مټ درېنیم ساعته لاره وه اوزه هم داتن په سیمه ییز وخت دغرمې دولس نیمي بجي ،دیونان پلا زمېنې د اتن ښکلي او تاریخي ښارته ورسېدم.

داتن ښار نه یوازې تاریخي دب دبه لري، بلکي جغرافیوي جوړښت یې هم دېام وړ دی اوداچي دې خاورې فیلسوفان اودجګړې ستر اتل سکندر غونډې کسان روزلي ،یولامل یې دیونان زړه رابښکونکي ، نرمه اوپسته هواده .

داتن جغرافیوي جوړښت کټ مټ کابل ته ورته دی، هغه په دې معنا که زوړ اونوی کابل ،له یوشمېرنورو سیمو سره پیوند کړو ، نواتن ترې جوړېږي ، راواخله له ارغندي،پغمان ، غوربند، د سالنګ له لمنې نیولي ترکاپیسا ،همغسي له سروبي را واخله ترخوردکابل،شېوکي اودارالامان پوري ...

همدارنګه اتن هم لکه دکابل غونډې د غرونو په کلا کي را ایسار دی اوددې لرغوني ښار دښکلا دب دبه یې څو برابره زیاته کړې ده .

زه د ډسمبر په ۲ومه نېټه ،هغې تاریخي سیمې ته لاړم ،چي د هغه مهال د تمدن یوموهم ټاټوبی دی « زوت » یادووم ، چي ټېمپل نومېده،یوه مذهبي کلا وه،چي په ۱۳ مې زېږدي پېړی کي جوړه شوې وه،له دېنه سوونه ګامه وړاندي داتن ښارپارلمان پروت و، چي مخې ته یې زرګونه سیلانیان اولاریون کوونکي له خپلوشعارونو سره ولاړ ول .

د ډسمبر په درېیمه نېټه ،ورپسې هغې تاریخي غونډۍ ته لاړم،چي د تاریخ په اوږدو کي ډېرې سرې تودې پرې راغلي ،لیدلي اوګاللي دي ، دې سیمې په تولـه کي دسرخلاصي موزیم بنه درلوده... دغونډۍ په لمنه کي ، یوزړه رابښکونکی تیاترسترګو کېده ، چي دېوالونه یې له ډبرینوخښتو جوړ و اودا هغه تیاتر و، چي له میلاد نه پنځه زره کاله وړاندي جوړ شوی و.

په لرغوني اتن کي تیاتر یوازې دساعت تېرۍ وسیله نه وه بلکي د دوی د مذهبي ارزښتونویوه سپېڅلي ننداره وه اودا هغه تیاتر و، چي په دې کي داشیلوس ، اورپیدیس،ارستوفانس اوپه لسګونو لیکوال اودتیاتر لوبغاړي دهنر اوادب ډګر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

ته راووتل ،خواشیلوس لومړی لیکوال و،چي تراژیدي ډرامې یې ولیکلې اولسګونه واري لومړۍ درجه جایزې اوډالی ترلاسه کړې .

له تراژیدي ډرامونه پرته کمیډي ډرامې هم یودبل پسې دهنر اوادب ډګر ته راووتې اوکله به چي لوبغاړوښه تمثیل تر سره نکړ ،نوبیا به جزا ورکړ کېده اوپه دغه تیاتر کي اوولس زره سیلانیان اونندارچیان ځاییدل .

ددغه تیاتر په څنګ کي یو بل تیاتروډان واوداهغه تیاتر و،چي درومیانو له بریدنه وروسته جوړ شوی وه ،چي ماڼی یې دلومړي تیاتر په پرتله پر مخ تللي وه او په دویمه میلادي پېړۍ کي ودان شوی و او« ۲۰۰۰ » زره نندارچیان په کي ځاییدل .

کله چي له تیاتر نه مخته لاړو،هلته د یوه لرغوني روغتون نښې نښاني هم ترسترګو کېدې اوپه ډبرینو ښتویې یو شمېر انځورونه اوتصویرونه کاګل شوي ول .

کله چي دغونډۍسر ته پورته شو،هغه اساسي کلا مو ولیده چي لرغوني دب دبه یې له ورایه ښکارېده اودغه سیمه د اتن ښار له ټولو زړه سیمه وه .

دغي کلا ته یې « اکروپولیس » ویلې،چي معنا یې دغونډۍ دسرکلا وه اودغه لرغوني کلا له میلاد نه دوه زره کاله وړاندې له ډبرینوخښتو جوړه شوې وه اودغه ماڼۍدیونان دیو ستر ټولواک استوګنځای وو، چي د غې ماڼی ته مخامخ یوه بله ستر ه غونډۍ وه ، هلته دیوه شتمن پانګوال هدیره وه،چي لرغوني دب دب یې له ورایه ښکا رېده .

هغه مهال چي دپارس هخامنشیانوبرید وکړ،که څه هم په لومړي برید کي ماته وخوړه ،خو په دویم بریدکي داتن خلکو ته یې ماته ورکړه اودوی دیونان یوې بلې ټاپو ته پناه یووړه .

کله چي کلونه وروسته هخامنشیانو ماته وخوړه دغه لرغوني اوتاریخي ماڼی له سره ورغاول شوه،چي ددغي ماڼی مخامخ لږ وړاندې یو کلي ودان و ،چي هغه کلي ته یې د

د موکراسۍ کلی وېلې .

داکروپولیس کلا کي دیونانیانو « دهغه وخت خدایان » ځای پرځای ول ،ددغي ستري ماڼی چپ یعني کیڼ اړخ ته یوه بله ماڼی ودانه وه ، چي په ښځینه تابلوګانو ښکلي شوېوه ،دا ډېره مو همه ماڼی وه اوځانګړی درناوی ورته کېده .

هغه وخت چي عیسویت په دغه سیمه کي خپور شو،دغي کلا بیا دکلیسا بڼه خپله کړه ،ولې بیاهم دغي کلا خپل سیاسي ارزښت اودب دبه درلوده .

هغه ماڼی چي واکمن به پکې استوګن و، چي بیا کلیسا شوه « پرتینن » نومېده اوکله چي      ترکانو پرې برید وکړنوبیا ترې جومات جوړ شو، ولي هغه چي یونانیانوپرې بیا برید وکړ،دجومات په یوه کوټه کي مسلمانانوباروت ځای پر ځای کړي وو، بیاهغو ته چاودنه ورکړ شوه ،چي ددغي تاریخي کلا دغې ماڼی ته درون زیان واووښت .

کوم خدایان چي دکلا په یوسیمه کي وو،مشر خدای یې د « زوس » په نوم یادېده اوپخپله داتن ښارچي اصلي نوم یې « اتینا » و،دا د« زوس » د خدای لور کېده .

د ډسمبر په څلورمه نېټه ،له هغه هوټل نه چي موږ پکې استوګن وو، دیوې بلې تاریخي ټاپو د لیدنې لپاره، د بېړېیوتمځای ته راغلو،شاوخوا د سهار اته بجې وې،چي بېړۍ ته پورته شواوپه داسي حال کي چي ګڼو بېړېیو، د مدیترانې په سمندرګي کي یودبل پسې سړکونه کاږل،یوه اوبله خواروانې وې ،موږ هم دبیلا بېلوټاپوګانو پاڼې اړولې،له یوې ټاپونه بلې ته اوله بلې نه بلې ته مولاره لندوله ، ترڅو چي اصلي ټاپوته ځان ورسوو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دغه سفر کي مودبېلا بېلو ټاپوګانوتاريخي کلا وې له سترګو تېرولي،چي دهرې ټاپو په غېږه کي وداني وې ... د هرې ټاپو غېږه د ځنګله په شين بخن بخمل رنګينه وه اوخال خال به سپينو مانېيوترې خپلي ککرې را بېرون کړې وې .

دهرې ټاپواوغونډۍ په تندي دلمروړانګي ځلېدلي،خود پام وړخبره خو داوه ، چي يوه شېبه به اسمان شين سواويوه شېبه وروسته به بيا شېبه شېبه باران راووړي اودرنګارنګ ګلبوټواوګلونومخونه به يي ووينځل .

داچي دهرې ټاپوخپله خپله ښکلا وه ،نو موږ به هم،يوه شېبه د طبليعت ښکلي رنګينی ته پېنه نيولي شواوداسي فکر به راپيداسو، داچي په دې هېواد کي،فيلسوفان،دجګړې اوټولواکمنی اتلان،ليکوال اوشاعران ،دهومراوهېرودت په څېر تاريخپوهان دنړۍ ډګر ته راوتلي دی ، ښايي يولا مل يي داتن ښکلی اورنګين طبېعت وي او هغه دچا خبره چي ښه خواړه خورم ،نوښه فکر کولاې شم .

دمديتراني سمندرګي په پټه خوله ،زړه کي ډېري له شوره ډکي کيسي درلودې اودټاپوګانوسترې کلاوې هم بې کيسونه وې اوبې چښتنو ټاپو ګانو هم دښکلي طبېعت ښکلي کېسي په زړه کي غوټه کړې وې ،خوددوۍښکلا ګاني پرته له باغوان اوبڼوال نه اذلي ښکلي پيداوې اوطبيعت دهغو پر مخ دمهرباني لاس راکاږلی وو .

چښتن تعالی د خپلي لورېيي اوپرزويني له مخي  دمديتراني ګلبوټو ته ځانګړې ښکلا،طبعي سخاوت اورنګارنګه ښکلا په نصيب کړې وه .

د مديتراني د سمندر ګي هره ټاپو،هره دره اوهرناو... لکه زما دوطن ښکلی نورستان ،داسي ښوون،داسي ناجوګان اوګلبوټي ،لمن لمن ګلان ، دپستي اوبادام ميوه داري وني اوډېرداسي څه وو چي زه يي پېنه نيولی کړم ،چي هرساعت به دې ورته کتل لکه چي چا مخ ورته دزمزمو په اوبو وينځلی وي .

دسمندر په غېږه کي ماهيانو له ډېرې خوشحالي ټوپونه وهل اوتنکيوهيلېيواوبتکود مديتراني له څپو سره لوبې کولي اولکه زما دوطن ځاني به چي دنيمي شپي په سمندرونو کي مزلونه وهل .

دهېينتيا اوحيرانتيا خبره خوداوه ، کله کله به دسمندر غېږه دهسکوغرورونو په مينځ کي دومره وړه اوتنګه شوه چي يوه ښه لامبوزن کولی شول چي له يوې ټاپونه بلي ته دځان لپاره د تګو راتګ لاره اواره کړي اوکله به سمندرګی دومره پراخه شو چي بېړۍ به پکي پخپل مزل سترې کېدې .

په سيمه ييز وخت دماسپښين دوه بجي وې له بېړۍ راښکته شوم اولماسره نورسيلانيان هم وو، يوې ټاپو ته چي« اجينا » نومېده ورغلواود لرغونپوهانوپه اند تاريخ يي له ميلاد نه دمخه ۳۵۰۰ کاله پورې يقيني و،چي په ټوله کي دعمراندازه «۵۵۰۰ » کالوته رسېده .

داسي انګېرل کېږي چي ښايي دسپينو سروسيکه هم لومړی همدلته وهل شوي وي اوسيمه ييزوخلکوهم داوېلي چي يونان شاوخوا دوه زره ټاپوګان لري ، خو ډېره ښکلي ټاپو يي همدغه د « اجينا » ټاپوبلل سوی ده .

رښتيا هم دا ټاپو دومره ښايسته وه چي دچا خبره په ليکلو يي قلم سترې کېږي ، له همدې ښکلا اورنګيني سره سره عثماني ترکانو دغه ټاپو ونيوله اوڅلورسوه کاله يي پرې حکومت وکړ.

کله چي عثمانيانودغه سيمه ونيوله ،په دغه ټاپو کي ، چي دټولو کليوشمېر يي دوه دېرشو ته رسېږي ۳۶۰ کليسا ګاني اوچرچونه اباد ول اوبيا ترکانو پکي جوماتونه ورغول .

ددې ټاپو يوه کلي ته لاړم،چي « سنتا مرينا » نومېده ،د نوروکليوپه پرتله يي يوه ځانګړنه داوه چي له ميلاد نه پنځه پېړۍ دمخه ديوې سترې غونډۍ په سرودان شوی و، چي دوه خواوو ته يي سمندراودوه نورولوروته يي له ځنګلوډک ،اسمان څکي غرونه ترسترګو کېدل .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

دتېروعقیدو له مخې ،دې سیمې یوخدایګوتی درلود،خو کله به چې یوطبعي ګواښ ترسترګوشو،خداېګوتی به هم له سترګوغیب شواود دغې ټاپو شمېرشپیته زره تنه وو اوحال داچې دټول یونان د نفوس شمېر لس میلونوشاوخوا ټنو ته رسېږي .

هغه وخت چې پارسیانواتن ونیو،خلک همدغې سیمې ته ،چې « سلي مینا » نومېده راغلل، اوس دلته یوموهمه کلیسا ودانه ده،چې په یو وخت کې نه زره کسان پکې ځاییږي اوداسې انګېرل کېږي،کله چې به څوک ناروغه شودلته به راوړل کېده اودیوې شپې له تېرولو وروسته به روغ رمټ شو.

په دغه سیمه کې اووه نوي سلنه خلک ارتودکس دي اودرې سلنه کاتولیک اوپروتستان دي ، چرچ په درې پوړېیو کې اباد دی اوبله داچې دغه ټاپودومره موهمه وه چې ۱۸۲۴کال کې د دوه کلونو لپاره د ټول یونان پلازمېنه وه .

د ډسمبرپنځمه نېټه وه ، داسې مهال و چې شېبه شېبه باران اورېده، د ورځې درې بجې وې،له هوټل نه مخ په هوایي ډګر را روان شوم ،له اوږده ځنډ نه وروسته،د شپې اووه بجې اوپنځه څلوېښت دقیقې وې،چې الوتکه د اتن له هوایي ډګره راوالوته اوپه ځواکمنو وزرونو نوېي داسمان تنابونه رالنډول اوشاوخوا دشپې یوولس بجې وې، چې الوتکه لندن ته څېرمه د « ګټ ویک » هوایي ډګر ته راکوزه شوه اوبیا دیوه ګرندي موټرپر مټ، چې په خپلو چټکوګامونوېې زموږ د کلي لاره رالنډوله ، د شپې یوه نیمه بجه له ګڼو خاطرو سره کور ته ورسېدم .

انشا الله د سفرتربلې پا نې

د اوس لپاره همدومره

لندن

۱۱\۱۲\



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ